الله پاک پر خپلو بندګانو تر دې ښځې ډېر مهربان دی، لکه څومره چې دا په خپل کوچني مهربانه ده

د عمر بن الخطاب رضي الله عنه څخه روایت دی چې: نبي صلی الله علیه وسلم ته بندیان راغلل، ګوري چې له بندیانو څخه د یوې مېرمنې سینې له شیدو ډکې دي، چې ناڅاپه یې په بندیانو کې یو کوچنی وموند، نو راپورته یې کړ، سینې ته یې واچاوه او شیدې یې ورکړې، نو نبي کریم صلی الله علیه وسلم مونږ ته وفرمایل: «آیا ګمان کوئ چې دا ښځه دې خپل ماشوم اور ته وغورځوي؟» مونږ وویل: نه، که چېرته د دې ځواک ولري چې اور ته یې ونه غورځوي، نو هغه وفرمایل: « الله پاک پر خپلو بندګانو تر دې ښځې ډېر مهربان دی، لکه څومره چې دا په خپل کوچني مهربانه ده».

[صحیح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د هوازن قبیلې څو اسیران راوستل شول، چې په دې کې یوه ښځه د خپل ماشوم په لټه کې وه، کله چې هغې خپل ماشوم وموند، هغه یې واخیست او شیدې یې ورکړې ترڅو سینه کې د شیدو ډېربدو له امله له درد څخه خلاصه شي، نو سینې ته یې جوښت کړ او شیدې یې ورکړې، نو نبي صلی الله علیه وسلم خپلو صحابه وو ته وفرمایل: آیا فکر کوئ چې دا ښځه دې خپل ماشوم اور ته وغورځوي؟ مونږ وویل: هغه به یې په خپله خوښه ونه غورځوي. نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: الله تعالی پر خپلو مسلمانو بندګانو لدې ښځې - پر خپل کوچني - زیات مهربان دی.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/10095